د افغانستان اسلامي جمهوريت

د ټاکنیزو شکایتونوکمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون اعلامیه

کابل ښار : ۱۴ / ۶ / ۱۳۸۹

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په داسي حال کي چې د افغانستان د اسلامي دولت له رسمي دریځ څخه چې باید د ټاکنو په بهیر کي دې د مداخلې مخنیوی وشي ،هرکلی کوي ، خو د یو شمیر هغو دولتي لوړپورو چارواکو د احتمالي نفوذ څخه چې د یو شمیر نوماندانو له کورنیو سره اړیکي لري اوپه ځینو ټاکنیزو مرکزونو کي د یو شمیر نوماندانو په ګټه کار کوي اندیښنه لري .

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له دولت څخه غوښتنه کوي چې د روښانه او عادلانه ټاکنو د ترسره کیدو په اړوند چې کومې اندیښنې شتون لري باید مخکې له مخکي په دې اړوند کړنې وضع او تطبیق کړي .

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون